مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهولی ارین ۲۰۲۶/۱۱/۰۱

د مخدره توکو کر، تولید او استعمال

(دریمه‌برخه)



په تېره برخه کې مو د مخدراتو پر ځینو ډولونو یو څه رڼا واچوله، دلته غواړم د مخدراتو پر معاصرو ډولونو هم یو څه معلومات وړاندې کړم:

په پخوانیو فقهي متونو کې د مخدراتو بحث تر هماغه څلورو ډولونو پورې منحصر وو چې د مخه ورته اشاره شوې وه، اما په معاصر وقت کې زیات شمیر مخدره توکي کشف شوي او زیات نور د کیمیاوي ترکیباتو په نتیجه کې جوړیږي چې د دې تقسیماتو په اړه هم مختلف نظرونه شتون لري چې په لاندې توګه ورته اشاره شوې ده.

د مخدره توکو د ډولونو په اړه یو شمیر پوهان هغه د رنګ له کبله په مختلفو ډولونو باندې ویشي:

الف: سپین رنګي مخدره توکي لکه (کوکایین او هیروین).
ب:تور رنګي مخدره توکي لکه (تریاک او چرس).
ج:مسکر مخدره توکي لکه (شراب او داسی نور).
د پورتنیو ډولونو تر څنګ غوره ډولونه هغه دي چې د افغانستان اړوند قانون د څلورګونو جدولونو په ارایه سره مطرح کړی دی، د مسکراتو او مخدراتو پرضد د مبارزې او کنترول قانون څلور جدولونو کې مخدرات تقسیم کړي دي:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په لومړي جدول کې يې (۱۰۸) قسمه مخدره توکي ذکر کړي دي. په دويم جدول کې يې (۵۸) ډوله مخدره توکي ذکر کړي دي. په دريم جدول کې يې (۷۵) ډوله مخدره توکي ذکر کړي دي او په ځلورم جدول کې يې(۲۵) ډوله مخدره توکي ياد کړي دي.

په پورتنيو جدولونو کې لومړی جدول هغه مخدره توکي په نښه کوي چې په طبابت کې ورځخه استفاده نکيږي. په دويم جدول کې هغه بوټي او توکي ذکر شوي دي چې په طبابت کې له هغو ځخه استفاده کيږي او تر شديد کنترول لاندې دي. په دريم جدول کې هغه بوټي او مواد ذکر شوي دي چې په طبابت کې له هغو ځخه استفاده کيږي خو ترکنترول لاندې دي، په ځلورم جدول کې دهغو خامو کيمياوي موادو يادونه شوي ده چې له هغو ځخه د ترکيبي موادو په شکل د مخدره توکو په جوړولو کې کاراخستل کيږي.

د پورتنيو ټولو مخدره توکو چې شمير يې(۲۶۶) ډولو ته رسيږي، د کنترول، توليد، پروسس، اخيستل، خرڅول، توريد، تصدير، عرضه، ساتنه، حمل، نقل او استعمال لهپاره قانوني تدابير په پام کې نيول شوي دي.

په نتيجه کې مخدره توکي هغه عامه کلمه ده چې شرابو، مسکراتو، مفتراتو او ټول هغه توکي په کې شاميږي چې د انسان عقلي، رواني، روحي او جسمي قوتونه متضرر کوي او يا هغه نشه کونکی توکی چې د انسان خبري نامنظمې کړي او يا د ځمکې او آسمان له پيژندنې ځخه استعمالونکی عاجز کړي د هغه تګ نامنظم کړي، مسکر بلل کيږي.
نو ځکه هغه مخدره او سستونکي توکي چې په علمي لحاظ انساني عقل، جسم او کرامت ته ضرر پيښوي اسلام منع کړي دي. د اسلامي شريعت متخصصينو ته وړاندیز دی چې د مخدره توکو د ضررونو په اړه هماغسې ولسونه وپوهوي لکه ځنګه چې يې د شرابو په اړه پوهولي دي. همدا ډول زيات شمير داسې مخدره توکي شتون لري چې هغه د شرابو ځخه ځو چنده خطرناک او مضر دي اما د خلکو د نافهمۍ له کبله استعماليږي، د همدې ډول توکو په اړه د خلکو پوهاوی د هيواد د ډاکترانو مسؤليت هم دی.

د شرعي علومو پوهانو ته په کار ده چې د مخدراتو د مضرو ډولونو په اړه چې انساني نفس، عقل، مال او حواسو ته زيان رسوي د مسلمانو ډاکترانو خبره په جديت سره قبوله کړي.

په ريښتيا هم چې په افغانستان کې په مخدره توکو رويږدي کسان يوه بېړنۍ او لويه روغتيايی، اقتصادي او ټولنيزه ستونزه ده چې د ملګرو ملتونو او اړوندو بنسټونو د راپورونو له مخې ميليونونه کسان د دغې شومې پديدې تر اغېزو لاندې دي ، چې عمده او اساسي لاملونه يې په هيواد کې بېوزلي او بېکارۍ يادولای شو.

ډېرى رويږدي کسان په کورنيو او ټولنيزو ستونزو، فقر او د کار نشتوالي له امله مخدره توکو ته مخه کوي.
له بله پلوه اويږدمهاله جګړې، د سالمو مصروفيتونو نه شتون او داسې نورې ناخوالي د دې لامل شوی چې ځوانان او نور وګړي په نشه يې توکو رويږدي شي.

د نويو نشه يي توکو زياتوالی د هيروينو او تریاکو ترڅنګ د «شيشې» (ميتامفتامين) په ځېر صنعتي او خطرناکو مخدره توکو کارونه هم ډېره شوې دي، چې هيواد وال او په خاص ډول ځوان نسل يې له سختو او مرګونو ګوابنونو سره مخ کړي دي. دغه رويږدي کسان نه يوازې پر خپلو کورنيو يو دروند اقتصادي او رواني بوج دي، بلکې په ټولنه کې د جناياتو او ناامنيو لامل هم شوي دي.

د راپورونو له مخې د رويږدو کسانو يوه د پام وړ برخه هم ښځې او ماشومان جوړوي چې د ملاتړ او درملنې لهپاره يې تر ټولو زياتو مرستو ته اړتيا لېدل کيږي.

که څه هم په هيواد کې د رويږدو د درملنې ځيني مرکزونه شتون لري او زرګونه کسان تر درملنې لاندې نيول شوي، خو د امکاناتو کمښت او تر درملنې وروسته بيرته په نشو د اخته کېدو لوړ تناسب لاهم جدي ننګونې دي، چې هيوادوال ورسره مخ دي.

نوربيا

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ